# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۴۰۰ د چنگاښ اوومه | د ۲۰۲۱ د جون ۲۸مه | ۷۴۰مه گڼه


## کاروبار

۴ مخ



### ډېل کمپنۍ

ډېل کمپنۍ کمپیوټر جوړوي او بیا یې مستقیم د انټرنېټ له لارې پلوري. کلنۍ پلور یې تر ۵٦ میلیاردو ډالرو اوړي. تر اویا زره ډېر کارکوونکي کار ورسره کوي او د نړۍ په ۵۰ هېوادونو کې ۸۴ استازولۍ لري.


# د جگړو شدت او د کډوالۍ ناورین؛

## د جگړو له کبله یې ځایه شوې زرگونه کورنۍ جدي مرستو ته اړتیا لري



۳

### کرنې ریاست: روان کال د هلمند د انگورو حاصلات نږدې ۹۵ زره متریک ټنو ته رسېږي



د هلمند د کرنې ریاست چارواکي وایي چې د یاد ولایت د انگورو په حاصلاتو کې د پخوا په پرتله د پام وړ زیاتوالی راغلی دی. د هلمند د کرنې رییس زلمی الکو وایي چې سږ کال به د دغه ولایت د انگورو له بڼونو څه باندې ۹۵ زره متریک ټنه حاصلات تر لاسه شي.

الکو وایي چې اوسمهال په ٦۹۳۵ هکتاره ځمکه کې د انگورو تاکونه او باغونه شته، چې د تېرکال په پرتله د دغه ولایت د انگورو بڼونو شمېر زیات شوی او هڅه کوي چې دا شمېر لا هم زیات شي. الکو دغه راز زیاتوي، چې له دغو بڼونو څخه به سږکال څه باندې ۹۵ زره متریک ټنه انگور تر لاسه شي.

د الکو په خبره، په هلمند کې ډول ډول انگور تولیدېږي او دا چې د هلمند انگور د نورو ولایتونو په پرتله ژر حاصل ته رسېږي، نو په بېلابېلو ولایتونو کې ښه مارکېټ هم لري.

### حکومتي چارواکي امریکا ته له سفر وروسته څه کوي؟

۲ مخ

### تاسو به یې جوړوئ؛ خو و به یې غځوئ!

۲ مخ

### صلح در گرو انحصارطلبی و جنگ؛ چرا از تجربه‌های ناکام گذشته نمی‌آموزیم؟

۳ مخ

## عبدالله: طالبان به د زور له لارې هېڅکله هم خپلو موخو ته ونه رسېږي

د ملي مصالحې عالي شورا مشر عبدالله عبدالله وايي، چې طالبان به هېڅکله هم د جگړې له لارې خپلو موخو ته ونه رسېږي. د نوموړي په خبره، ولس او اسلامي جمهوریت د افغانستان د رواني قضیې یو اړخ دي او طالبان یې بل اړخ دي.

عبدالله زیاته کړې: «که طالبان غواړي چې یوازې پوځي انتخاب ولري او له دې لارې مخې ته ولاړ شي، خدای ناخواسته د افغانستان د خلکو درد او کړاو به روان وي.»


د نوموړي په وینا، که طالبان یوازې پوځي لاره غوره کوي، دا به د ټولو لپاره مایوسوونکې وي. هغه زیاتوي چې د افغانستان د خلکو اولادونه چې د دفاعي او امنیتي ځواکونو په لیکو کې دي، د تېرو لاس ته راوړنو دفاع ته به دوام ورکوي. د ملي مصالحې عالي شورا مشر وویل چې د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته به ځینې سیمې کله د افغان امنیتي ځواکونو او کله د طالبانو لاسونو ته پرېوځي، خو طالبان به هېڅکله په زوره په افغانستان باندې حاکم نه شي. نوموړي د طالبانو مخکینی رژیم ته په اشارې ویلي چې دغې ډلې یو مهال د افغانستان په ۹۰ سلنې خاورې کنټرول درلوده، خو د افغانستان ستونزه یې حل نه شو کړای او په خبره یې، دا ډله د جنگ له لارې هېڅ نتیجې ته نه شي رسېدای.

## صالح: له طالبانو ملاتړ به پاکستان ته په لوړه بیه تمام شي



۲ مخ

## ویلسن: تخریب تأسیسات عامه توسط طالبان تکان دهنده است



سرپرست سفارت امریکا در کابل گزارش‌های نشرشده از ولسوالی اندخوی فاریاب را تکان‌دهنده خوانده است. این در حالیست که در این اواخر گزارش شده است که طالبان در این ولسوالی دکان‌های مردم را به آتش کشیده و تأسیسات دولتی را تخریب کرده‌اند.

راس ویلسن، سرپرست سفارت امریکا در کابل، در تویتی خود نوشته است که آتش‌زدن دکان‌ها، تخریب ساختمان‌های دولتی، بازداشت افراد، تخریب زیرساخت‌ها و شبکه‌های مخابراتی توسط طالبان نشان‌دهنده «افراط‌گرایی» و بی‌توجهی این گروه به حقوق بشری مردم افغانستان است.

نیروهای امنیتی روز جمعه، چهارم سرطان، ولسوالی اندخوی ولایت فاریاب را تصرف کردند. به دنبال آن گزارش شد که طالبان شب هنگام دوباره بر ولسوالی اندخوی حمله کردند و در جریان نبردها حدود ۷۰ دکان در بازار اندخوی در آتش سوخت.

گروه طالبان درباره سخنان سرپرست سفارت امریکا چیزی نگفته است. این گروه مدعی است که از تأسیسات عامه در مناطق تحت کنترل خود حفاظت می‌کند، اما برخی از تصاویر نشرشده از ساحات زیر تصرف طالبان جنگ‌جویان این گروه را در حال تخریب تأسیسات عامه نشان می‌دهد. پیش‌تر محمداشرف غنی، رئیس جمهور، گفته بود که طالبان حدود یک میلیارد دالر به زیربنای کشور آسیب زده‌اند.


کتاب مو د ژوند ملگری کړئ

Aksos
اکسوس کتاپلورنځی

کابل دریمه ناحیه، دڅهوری پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652 Aksos Book Store
www.aksosbookstore.af aksosbookstore@gmail.com

## سرلیکنه

### حکومتي چارواکي امریکا ته له سفر وروسته څه کوي؟

امریکا ته د ولسمشر غني له سفر او را ګرځېدو وروسته خلک لا هم نه پوهېږي چې افغانستان کوم لوري ته روان دی او څه پېښېدونکي دي. تمه وه چې امریکا ته به د افغان چارواکو په سفر کې د سولې په اړه یو نوی او واضح تصویر پیدا شي، خو له دې سفر وروسته هم د سولې تصویر تت دی او د جګړې په برخه کې هم داسې څه نه ښکاري چې شته حالت دې پرې بدل شي. له همدې امله اندېښنې شته او خلک پوښتي چې حالاتو ته د ځواب ویلو لپاره به د حکومتي چارواکو بل ګام څه وي؟

امریکا ته د افغان چارواکو په سفر کې داسې څه نشته چې حکومت دې یې پر اساس کومه نوې لاره غوره کړي. د سولې پروسه ورکه ښکاري او په دې برخه کې د کوم تحرک څرک هم نشته. نه طالبان، نه حکومت او نه هم کوم بل اړخ د سولې په خبرو کې د تحرک لپاره هڅه کوي او داسې ښکاري چې امریکا ته هم نوره دا پروسه مهمه نه ده او په دې اړه پر ښکېلو اړخونو فشار نه راوړي. له بله اړخه طالبان همغسې پرمختګ کوي، جګړه روانه ده او د افغانستان له لویې برخې د جګړې او نښتو خبرونه ورکول کېږي. طالبانو ورمه شپه هم پنځه ولسوالۍ نیولې وې او ښکاري چې دا لړۍ به همداسې روانه وي. حکومت چې د ولسوالیو د سقوط د مخنیوي لپاره کومې ژمنې کړې وې، نه دي عملي شوي او د ولسوالیو د بېرته نیولو پروسه هم تر ډېره کمزورې، نمایشي او ورو ده. د ولسوالیو د بېرته نیولو او یا د طالبانو د پرمختګ لپاره د ملېشو جوړولو لړۍ هم روانه ده، خو دا لړۍ له همدې پیله د عامو خلکو، سیاستوالو او آن په دولت کې دننه د ځینو اړخونو له مخالفت سره مخ شوې ده. په دې ډول حکومت نه په سوله کې او نه هم د طالبانو د پرمختګ د مخنیوي لپاره کوم کارنده پلان او ابتکار لري. له وروستیو بدلونونو ښکاري چې جګړه به روانه وي، طالبان به ښایي نورې ولسوالۍ ونیسي او خبره تر ولایتونو هم رسېدلی شي. حکومت له نظامي اړخه په ښه حالت کې نه دی او له امریکایي چارواکو یې هم داسې څه نه دي تر لاسه کړې چې پر هغو تکیه وکړي. له همدې امله کوم نوی پلان او پروګرام نشته .

اوس هغه وخت دی چې مسایلو ته په خلاصو سترګو وکتل شي، د امریکا په ګډون په نورو بهرنیانو تکیه ونه شي. اوس هغه وخت چې نور د جګړې فکر له سره و ایستل شي. دواړه اړخونه په اخلاص او صداقت د سولې خبرو ته ننوځي، سرې کرښې باید نورې ختمې شي. دواړه اړخونه باید یو له بل سره مخامخ خبرې ژر پیل کړي. د دې خبرو پر وړاندې که هر خنډ وي، هغه باید لرې شي. که طالبان د بندیانو خلاصون غواړي، دا کار باید ژر وشي او ورسره دې طالبان جګړه هم و دروي. که د سولې خبرې همدا اوس ژر پیل نه شي، خنډونه لرې نه شي، نو بیا وېره ده چې ښایي دواړه اړخونه یوې داسې جګړې نه ننوځي چې تري راوتل سخت وي او بیا به هر لوری د بل د نابودۍ فکر کوي او د سولې چانس به ضایع شوی وي.

# تاسو به یې جوړوی؛ خو و به یې غځوی!

لیکنه: عبدالوحید وحید

پخوانۍ کیسه ده. زما یو ملګری نیم نیمه ډاکټر، میر.... نومېږي. اوس په امریکا کې اوسېږي. مخکې په پښتونخوا کې د کډوالو په کمپ کې اوسیده. مور یې رنځوره وه. میر صاحب کومه ځانګړې پیچکارۍ په سیروم کې ورته ګډه کړې وه، چې ځینې خلک ورسره حساسیت ښیي. د میر صاحب مور هم له سیروم سره حساسیت ښودلی و. هغه بېچاره مړه وه، خو میر صاحب ویل چې ارام کوي او پاتې سیروم یې ناروغ ورور ته لګولی و. دواړه یې په همدغه یوه سیروم باندې مړه کړي وو.

پولیسو ته له خبر رسیدو وروسته ډاکټر میر صاحب د پولیسو له وېرې د کهي کنډو افغان کډوالو له کمپ څخه زمونږ د اضاخیلو کمپ ته کډه راوړه. زمونږ خلکو پیژانده، خو د احترام په خاطر یې ورته څه نه ویل. البته پټ متل ورپسې جوړ شو چې «میر صاحب جوړول خو ویې غځول».

یوه بله کیسه هم راته یاد شوه. شهید مولوي صاحب ارسلان رحماني کیسه کوله، ویل یې په اورګون کې یو سړی د مرګ په حالت کې و، ښځې یې زوی ته وویل چې لاړ شي او له مسجد څخه ملا راولي، چې تلاوت ورته وکړي او ساه یې په ارام ووځي. په مسجد کې له ملا سره بل مېلمه ملا هم شته. هغه یې هم له ځان سره راوستی دی چې که ناروغ مړ شو، نو سبا ته به په سقاط کې مېلمه ملا ته لږ شان ښه لاس ونیسي.ملایان راغلي وو. یو د ناروغ سر ته او بل یې پښو ته ناست دی. یو ملا د سر لخوا په رنځور باندې دم چوف کوي او بل د پښو لخوا. ښځه بېچاره د دروازې له چولې ورته ګوري چې د خاوند حالت یې کومې خواته روان دی. زوی یې په اشاره پوه کړی دی چې ملایان وباسه! اوس خو پکې ملایانو ساه پورې هورې کړې ده. یو د پښو لخوا ور چوف کړي ساه یې سرته لاړه شي، بل د سر لخوا ورباندې را چوف کړي ساه یې پښو ته لاړه شي.

اوس راځو اصل مطلب ته، هغه دا چې هیواد مو سخت رنځور دی او اوسني معالجین یې د درملنې توان او وړتیا نه لري. ډاکټران په کورونو کې کېنول شوي او د کمپیوټر ساینس فارغین د انسانانو جراحي عملیات کوي، نو کیسه د میر صاحب ډاکټرۍ ته رسیدلې ده. خبرې تول د هیواد د جوړولو کوي خو د ولسي بسیج په نوم د وسلو ویش او د اوباشانو وسلهوال کول به دغه هېواد د جوړولو پر ځای وغځوي. په ولسوالیو باندې یو اړخ د سر لخوا برید وکړي. هغه یې ساه پښو ته راورسوي او بل لوری سبا د پښو لخوا ورباندې برید وکړي ساه یې سر ته ورسوي. دغو دواړو اړخونو په ولسوالیو کې ساه پورې هورې کړې ده. ځومره به ښه وای چې دا ناروغ هیواد یې د دواړو په خوښه رضا او رغبت اصلي ډاکترانو ته پرېښی وای.

اوسنی صورت حال دا دی چې ډاکټر غني د دغه رنځور ولس او ویجاړ هیواد د درملنې لپاره د پروپوزلو او انګلیسي ژبې له متخصصینو بې تجربې ځوانانو او یا د جنګي جنایتکارانو په خوله د اوسنۍ ستونزې د حل لپاره پخواني لوټماران په وسلو سمبالوي. دغه نوښت به هېواد د تباهۍ کندې ته وغورځوي او یقیناً به د نظام ستنې هم د برښنا د ستنو غوندې ونړوي.

طالبانو د جهاد تر چتر لاندې وچ او لانده، پاک او ناپاکه، خپل او پردي، ګرم او ناګرم، تور او سپین، ملا او انجنیر، مامور او محصل داسې وځپل چې اوس له غږ پورته کولو وړاندې لس ځله درود شریف په ځان چوف کوي.

د ولسوالیو نیول او د دولتي شتمنیو تاراج ورته غنایم ښکاري، د خپلو ملي تاسیساتو نیول او په ځینو مواردو کې یې نړول فتوحات او سپيڅلې کړنه ګڼي. ای کاش طالب مشرتابه هم د اوسني حساس وضعیت ارزول پیل کړي او له نورو افغانانو سره په ګډه یې د نظام د نسکورېدو مخنیوی کړی وای. حکومت او ړندو مقلدینو یې ستوني وشکول چې هلئ هغه بند جوړ شو، دغه سړک جوړ شو، هغه بل پُل جوړ شو، دا ده فابریکه جوړه شوه. د کابل په دري- څلور او شل کیلومترۍ کې د برښنا ستنې په بمونو الوزول کیږي، خو د هیڅ حکومتي چارواکي خوله په امبور نه خلاصیږي چې دغه ناوړه کارونه څوک، ولې او د څه لپاره د چا په لمسون، د چا په ملاتړ کوي او ولې یې په وړاندې غبرګون نه ښودل کیږي؟

وروستي تحولات او په تیزۍ سره بدلېدونکي امنیتي حالات غیرمترقبه نه دي. داسې وړاندوېینه مونږ په مراتبو کړې ده، خو د حاکمې او مخالفې ډلې چارواکو بابېزه ګڼله. د حکومت سلاکاران لا اوس هم د جنګ دانه اخلي او لا هم حالات تر مدیریت لاندې ګڼي. کیدای شي ځینې خلک د مردمي بسیج تر غولوونکي نوم لاندې د ګډوډۍ، وارخطایۍ او بالاخره د نظام د نسکورېدو په موخه د ژورې دسیسې پلان ولري. داسې ښکاري چې اوسني چارواکي د افغانستان پر وړاندې د دغې خطرناکې دسیسې په عواقبو باندې یا نه پوهیږي او یا هم قصداً غواړي چې نظام ونړېږي.

که د نجیب حکومت د سقوط په لاملونو باندې یو ځغلنده نظر واچوو، نو پوهیږو چې د نوموړي د حکومت د سقوط او هندوستان ته د نوموړي د تلو په مخنیوي کې همدغو دوستمي ملیشو کلیدي رول درلود. که څوک شک کوي، نو بینن سیوان او په موټر کې له نجیب سره ناست د ملګرو ملتونو ترکي مامور او په کابل کې د اسلامي کانفرانس د سازمان سفیر بوټسالي د پېښې عیني شاهدان اوس هم ژوندي دي.

هغه خلک سهوه شوي دي چې په جګړه کې بریا لټوي. هغه اشخاص بې وجدانه او بې ایمانه دي چې په خپله په بهر کې او یا هم د سیمټي دیوالونو تر شا ژوند کوي، خو د غریب بچیان جګړې ته لېږي. جګړه ګټونکې نه لري. د ارګ او ولایتونو نیول د دغه فاسد او نیمه نیم ښوره نظام نړول ګڼلای شو، خو بیا همدغه حالت ته رسول یې ناشوني دي. له نسکور نظام څخه همدغه خوسا نظام، فاسد چارواکي په مراتبو ښه دي.

د دې مطلب قطعاً دا نه دی چې مونږ اوسنی حالت تحمل کړو او د سمون له هڅو څخه لاس واخلو. نه قطعاً نه. واضحه خبره کوو او ښکاره نیوکه لرو. په روانه جګړه کې مو دواړو خواوو ته افغان وروڼه وژل کېږي. قاتل او مقتول سکه وروڼه دي. فاتح او مفتوح د یوه بدن غړي دي. جګړه د واک په سر ده، خو د واک په ګدۍ ناست او واک ته لنګ وهلي ناست کسان د جګړو ډګر ته نه ځي.

**جناب ولسمشر!**

تاسو راسره ومنئ چې په ملي ارزښتونو او دیني معتقداتو باندې د نابلدتیا له امله درڅخه د ملت د مشرۍ دنده نیمګړې پاتې ده. ارګ مو بدنام شو او تاسو چوپ پاتې شوی. له ملت څخه ډېر لرې لاړی، خو د نړدې کیدو چل مو هم نه دی زده. تاسو خبر یاست چې فساد سیستماتیکه بڼه خپله کړې ده، خو هیڅ ډول مخه مو یې ونه نیوله. ولس مو سره وویشه او په همدغه ستره نیمګړتیا باندې ویاړی. تبعیض ته مو په متفاوته توګه وده ورکړه او د سولې پر وړاندې خنډونه جوړوی. اوس تاسو د خپلو غلطیو پایلې ولیدې، خو دقیقه محاسبه او د ناکامۍ د ارزولو همت نشی کولای.

طالبان یوازې جګړه کوي، خو د راتلونکې ناورین او د پردې تر شا د ناست دښمن د دسیسو د ارزولو په تړاو هیڅ فکر نه کوي.

هغوی هم د جوړولو په نیت غځول کوي. په جنګي برخه کې د برلاسۍ له امله اړینه خو دا وه چې طالبانو رغنده د عمل او منلو وړ مشخص وړاندیزونه کړي وای او ملت ته یې ډاډ ورکړی وای چې هغوی د نظام نړول نه غواړي.

# صالح: له طالبانو ملاتړ به پاکستان ته په لوړه بیه تمام شي



په داسې حال کې چې ولسمشر غني او ورسره مل پلاوی یې له امریکا نه بېرته افغانستان ته راستون شوی، د ولسمشرۍ ماڼۍ لومړي مرستیال امرالله صالح اسلام اباد ته خبرداری ورکړی، چې له طالبانو سره د یو لاس پاتې کېدو بیه به ورته ډېره لوړه تمامه شي.

صالح ویلي، چې واشنګټن ته د افغان پلاوي سفر له لاسته راوړنو ډک و او زیاته کړې یې ده چې د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته په افغانستان کې د سیمې په رول باندې لوی بحثونه شوي دي. هغه په خپلې فېسبوک پاڼې کې لیکلي: «اسلام اباد د طالبانو کوربه په توګه د دغې ډلې له زېږېدنې تر اوسه کولی شي د سولې پروسې کې ښه ونډه ولوبوي چې وکړای شي د افغانستان د اعتماد وړ ملګری شي. د اوسني سیاست دوام چې جمهوریت سره خبرې او عمل د طالبانو سره وي، یوازې د بې اعتمادۍ سبب کېږي.»

هغه زیاته کړې: «د طالبانو د ملاتړ بیه به ډېره لوړه وي. وضعیت بدل شوی. نن ورځ نه یوازې موږ، بلکې د پاکستان په پارلمان کې ځینې ویښ وجدانونه د طالبانو پر لاس د افغانانو د وژنې سیاستونه محکوموي.»

دا په داسې حال کې ده چې تر دې مخکې د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي ویلي وو چې امریکا ته د ولسمشر غني په سفر کې باید پاکستان د افغانستان په جنګ کې اصلي عامل ونه ګڼل شي.

قریشي د جون په ۲۴ د افغانستان-پاکستان دوه اړخیزې ناستې کې ویلي وو: «هغوی ته د ښو لیدنو تمه لرو، خو مخکې له مخکې وایم، که واشنګټن ته تګ د پاکستان ملامتول وي، دا سفر به هېڅ ګټه ونه لري.»

د ولسمشر لومړي مرستیال دغه راز ټینګار کړی چې د افغانستان اقتصادي ودې ته په سیمې کې اجماع رامنځ ته شوې، خو یوازې له یو هېواد پرته نور ټول له افغانستان سره د ښو اړیکو غوښتونکي دي.

تر دې مخکې ولسمشر غني له شپیګل ورځپاڼې سره په یوې مرکې کې پاکستان په دې تورن کړی چې له طالبانو سیستماتیک ملاتړ کوي. بلخوا پاکستان دغه تورونه رد کړي دي.

# صلح در گرو انحصارطلبی و جنگ؛ چرا از تجربه‌های ناکام گذشته نمی‌آموزیم؟

**محمد معصوم ستانکزی**؛ رئیس هیأت مذاکره‌کننده افغانستان

نزدیک به نیم قرن است که افغانستان درگیر بحران‌های پی‌هم و جنگ‌های خونین بوده و منافع متضاد کشورهای منطقه و جهان و مداخله علنی و مخفی آن‌ها، عوامل اصلی ادامه بحران در کشور تلقی می‌شود. در این هرج و مرج‌های سیاسی و نظامی، زعامت‌هایی که تحت تاثیر عوامل جنگ یا به صورت تصادفی به میان آمده بودند، تحت شعارهای مختلف، مردم را به جان هم انداختند. ولی سناریونویسان اصلی این بحران‌ها تغییر نکرده‌اند و می‌خواهند که بار دیگر از راه مداخله و تفرقه‌افکنی، زمینه تداوم خونریزی‌ها را فراهم سازند.

ما در گذشته شاهد بودیم که چگونه نظام‌ها در افغانستن پنج بار در کشور از هم پاشید و دوباره شکل گرفت. افراط و تفریط، انحصارطلبی توأم با مداخله بیرونی از عوامل اساسی فروپاشی نظام‌ها بوده است. تجارب نشان دهنده آن است که تغییر و تحول پایدار که باعث قوت مادی و معنوی جامعه می‌شود، مرهون تطابق شرایط عینی و ذهنی جامعه است. آنانی که با دید بیست سال قبل به افغانستان امروز نگاه می‌کنند، اشتباه بزرگی را مرتکب می‌شوند.

نسخه‌های وارداتی خارجی که صرفاً منافع متضاد بازیگران منطقه‌ای و بین‌المللی را در نظر گرفته و بر مردم افغانستان تحمیل می‌شود، نمی‌تواند قضیه را به گونه‌ای ریشه‌ای حل کند، بلکه بر پیچیدگی اوضاع می‌افزاید. مردم افغانستان هنوز هم از عواقب تصامیم در پاکستان حین سقوط حکومت داکتر نجیب الله و اشتباه کنار زدن طالبان و حزب اسلامی در کنفرانس بُن در سال ۲۰۰۱، زجر می‌کشند. تحولات چهار دهه گذشته فرصت را از افغانستان برای مبدل‌شدن به یک کشور مرفه و توسعه یافته گرفته است، اما کشورهای منطقه از این برهه استفاده اعظمی کرده و راه توسعه را پیمودند.

شعارهای فریبنده‌ای ضد و نقیض رنگ خود را باخته است؛ چون در عمل چیز دیگری ثابت شده است. بار دیگر مردم افغانستان با آزمون بزرگ و انتخاب‌های دشوار روبرویند. مسئولیت در برابر این آزمون بزرگ متوجه همه و به خصوص متوجه آن‌هایی است که در هر دو طرف، ادعای رهبری را دارند.

طالبان در گذشته سه عامل را مانع اصلی صلح در افغانستان می‌دانستند. نخست، حضور نیروهای بین‌المللی، دوم، نبود آدرس سیاسی طالبان برای مذاکرات؛ و سوم، عدم موجودیت اجماع سیاسی میان رهبران افغانستان و جهان برای تامین صلح. با اعلام خروج نیروهای بین‌المللی، فعالیت چندین‌ساله سیاسی طالبان در دوحه و اجماع سیاسی میان رهبران کشور برای تامین صلح عادلانه، جایی را برای بحث و بهانه جویی بیش‌تر باقی نمی‌ماند. پس چه کسی مانع صلح است؟ و چرا مردم افغانستان این گمشده را در کشورهای دیگر جستجو می‌کنند؟

ماه‌ها است که مذاکرات صلح افغانستان آغاز گردیده است، اما این مذاکرات به بهانه‌های گوناگون به تأخیر انداخته می‌شود. درحالیکه قتل و خشونت به شدت ادامه دارد، طالبان گاهی تصامیم و فیصله‌های قدرت‌های بزرگ جهان و گاهی مشوره‌های بی‌پایان خود را بهانه می‌گیرند و از بحث‌های اساسی طفره می‌روند.

طالبان گویا نظام اسلامی می‌خواهند، در حالی که اساس نظام اسلامی عملاً وجود دارد و بنیاد آن در چارچوب قانون اساسی سال ۱۳۸۲ خورشیدی توسط رهبران جهادی و علمای افغانستان گذاشته شده است. مردم افغانستان هیچ گاهی مخالف نظام اسلامی نبودند و برای به میان‌آمدن آن قربانی‌های زیادی را متحمل شده‌اند.

آیا کشتن مردم بی‌گناه به بهانه رسیدن به قدرت، توجیه‌پذیر است؟ اگر در مورد شکل و محتوای نظام اسلامی اختلاف باشد، بیایید از علمای بزرگ جهان اسلام بخواهیم که مشوره‌های خود را برای دو طرف در مورد اصلاح و بهبود نظام اسلامی در مطابقت با اصول و احکام دین مبین اسلام و شرایط امروز افغانستان و جهان ارائه کنند. اگر هدف تحقق آینده مشترک سیاسی است، باب مذاکره برای آن باز می‌باشد.

علمای جهان اسلام ادامه جنگ بعد از خروج نیروهای بین‌المللی را متفقاً حرام می‌دانند. در حالی که متارکه جنگ با نیروهای خارجی اعلام شده است، به اساس کدام حکم شرعی جنگ جاری علیه مردم را مشروع گفته می‌توانیم؟

خواست ملت قطع جنگ و آتش‌بس دایمی است. برخلاف توقعات مردم از مذاکرات آمریکا و طالبان که باید منتج به کاهش خشونت می‌شد، بر عکس آن دامنه خشونت را به مراتب گسترده‌تر ساخت. مردم حق دارند تا بدانند که چرا طالبان بر ادامه جنگ و خشونت پافشاری می‌کنند. مردم افغانستان و جهان به این باور هستند که معضل افغانستان راه حل نظامی ندارد. نیاز نیست راه حل نظامی را بار دیگر امتحان کرد، زیرا کشور را وارد یک مرحله جدیدی از جنگ و خون‌ریزی می‌سازد. این شعار که گویا جنگ برای قیام نظام اسلامی است، نمی‌تواند قناعت مردم را فراهم کند.

در این روزها همه‌ای ما شاهد نمونه‌های تکراری از تجارب تلخ گذشته هستیم. تلاش می‌شود که سرمایه‌های ملی که مربوط به همه باشندگان این سرزمین است، ظاهراً توسط افغان‌ها، ولی با دستان نامرئی دشمنان به تاراج برده شود. افغانستان در گذشته از دست دادن قوی‌ترین اردو (ارتش) عصر خود را تجربه کرد که بعداً همه ما افسوس آن را خوردیم. امروز همان تجربه نباید به وسیله دست نفوذی دشمن تکرار شود. باز همان شعارهایی که فلان پوسته را «فتح و غنایم» را بدست آورده‌ایم، تکرار می‌شود. عار است که با دستان خود، آنچه را در نتیجه توافقات صلح به بزرگترین سرمایه کشور مبدل شده می‌تواند، در معرض تاراج قرار دهیم و تجهیزات نظامی افغانستان را در بازارهای منطقه به قیمت آهن‌پاره به فروش برسانیم. این فتح نیست، بلکه داغ ننگین بر جبین کسانی خواهد بود که زمینه را برای تاراج فراهم می‌سازند.

هیئت مذاکره‌کننده افغانستان همواره تلاش کرده‌است تا مردم افغانستان از راه مذاکرات به صلح عادلانه و باعزت دست یابند. افغانستان کاملاً آزاد و مقتدر، و با داشتن نظام اسلامی مردم‌سالار، که ضامن حفظ وحدت و حقوق همه شهروندان باشد، مستلزم تصمیم و اراده صادقانه در میز مذاکرات است.

روشی را که طالبان برای ادامه جنگ در پیش گرفته اند، نتیجه نمی‌دهد. متأسفانه، این روش کشور را به سوی جنگ داخلی سوق می‌دهد و نفرت را میان مردم با هم برادر تشدید می‌کند. اگر طالبان مدعی کسب رضای پروردگار و خدمت به مردم هستند، نباید خود را در برابر مقاومت ملت مسلمان افغانستان قرار دهند. تنها با شعار به صلح نمی‌رسیم. برای رسیدن به نتایج معقول و منطقی، ما حاضریم که در حضور ناظر معتبر، مذاکرات را پیگیری نماییم تا قضاوت بی‌طرفانه در مورد عامل اصلی به درازا کشیده شدن مذاکرات و ادامه جنگ و خشونت صورت گیرد.

جامعه جهانی و کشورهای منطقه باید با قضیه افغانستان برخورد مسئولانه کنند. افغانستان را به عوض رقابت‌های منفی، نقطه وصل همکاری‌های اقتصادی منطقه‌ای و جهانی قرار دهند؛ زیرا در همکاری مشترک منطقه و جهان، منافع افغانستان و جهان تأمین می‌شود.

الی اکنون، صداقت را در موقف‌گیری بعضی از کشورها نمی‌بینیم. این کشورها به قضیه افغانستان از دریچه کوچک منافع خود و از دید بازی‌های بزرگ جهانی نگاه می‌کنند، غافل از این‌که ادامه بحران، منحصر به افغانستان نمی‌ماند و دامن‌گیر آن‌ها نیز خواهد شد. علما و بزرگان خیراندیش کشور، که همیشه در زمان بحران ابتکار را بدست گرفته‌اند، امروز نیز می‌توانند در زمینه نزدیک کردن دو طرف و قطع جنگ نقش مؤثر را ایفا کنند. قابل ذکر است که طالبان مانع فعالیت و تلاش‌های آن‌ها هم شده‌اند. با چنین برخورد تنگ‌نظرانه و ناعاقبت اندیشانه، افغانستان را نباید به عراق ثانی مبدل سازیم. همه شاهد ظهور و ختم بحران داعش در عراق بودیم، ولی فاجعه انسانی آن برای سال‌ها التیام نخواهد یافت. نباید با ادامه جنگ و بحران بیشتر، بار دیگر زمینه مداخله نظامی خارجی در کشور را از در و پنجره دیگری مساعد کنیم.

آینده مشترک مردم افغانستان نیازمند قطع عاجل جنگ و رسیدن به توافق سیاسی است. هیئت مذاکره‌کننده افغانستان همواره در راستای تامین صلح از راه گفتگوها تلاش ورزیده است. رهبری طالبان نیز باید متوجه شوند که در حق مردم کشور چه دارند، انجام می‌دهند. آن‌ها نباید باعث بدبختی بیشتر مردم افغانستان شوند. حکومت‌ها همیشه تغییر می‌کنند ولی نظام‌ها مانند سایر کشورهای جهان به قیمت گزاف مادی و معنوی پایه‌گذاری می‌شوند و آن را حفظ و بر غنامندی آن می‌افزایند. چرا طالبان برخلاف جهان اسلام فکر می‌کنند و کشور را به سوی انزوای جهانی می‌کشانند؟

افغانستان در حال حاضر گرفتار سه مصیبت بزرگ است. ادامه جنگ، موج سوم کرونا و خشکسالی. رسیدگی به این معضلات نیاز به خرد جمعی و تصمیم‌گیری توام با تدبیر دارد. اراده قوی مردم برای تامین صلح و ثبات کشور عامل پیروزی بر هر مصیبت است. فتح مبین صلح، در بدترین حالت، بدست می آید؛ چون خداوند با کسانی است که اراده واقعی برای صلح دارند، و کسانی را که فهمیده به قتل مسلمانان بی‌گناه ادامه می‌دهند، مورد عذاب بزرگ خود قرار می‌دهد. مردم افغانستان در طول تاریخ بر آزمون‌های متعددی چیره شده اند، و این بار نیز ان‌شاءالله بر همه مصایب پیروز خواهند شد.

# د جګړو شدت او د کډوالۍ ناورین؛

## د جګړو له کبله بې ځایه شوې زرګونه کورنۍ جدي مرستو ته اړتیا لري



په هېواد کې د جګړو او نښتو د خونړۍ څپې له پیل سره جوخت، په بېلابېلو ولایتونو کې زرګونه کورنۍ له خپلو سیمو بې ځایه شوي او په سختو شرایطو کې د ژوند شپې او ورځې تېروي. د رسنیو د راپورونو له مخې، د هېواد په ډېری ولایتونو کې د حکومت او طالبانو ترمنځ د جګړو او ولسوالیو د لاس په لاس کېدو له امله زرګونه کورنۍ بېځایه شوې چې له سختو ستونزو سره مخ دي او لومړنیو مرستو ته اړتیا لري. په کندوز کې د بېځایه شوو کورنیو ځینو استازو رسنیو ته ویلي چې له ولسوالیو زرګونه کورنۍ د کندوز مرکز ته راغلي او دلته یې په ښوونځیو او نورو ځایونو کې اړولي دي. د دوی په خبره، د خوراکي توکو، اوبو او درملو له کمښت سره مخ دي.

په ورته مهال د یاد ولایت د کډوالو چارو رییس غلام سخي رسولي رسنیو ته ویلي، چې د کندز له ښاره په دې وروستیو ورځو کې چې طالبانو د جګړې لمن ورغځولې، له پنځو زرو ډېرې کورنۍ د خپلو سیمو پرېښودو ته اړ شوې دي. رسولي وايي، د دې بې‌ځایه شویو تر دوه زره کورنیو پورې یې کابل یا نورو ولایتونو ته کډه شوې دي. د نوموړي په وینا، د دغه ولایت په نورو سیمو کې هم د نا امنیو د زیاتېدو له کبله نورې شاوخوا اته زره کورنۍ له خپلو سیمو بې‌ځایه شوې دي. پر کندز سربېره، د هېواد په شمالي، جنوبي او ختیځو ولایتونو کې هم د وروستي تاوتریخوالي د زیاتوالي له امله په زرګونه کورنۍ له خپلو اصلي مېنو بې‌ځایه شوې دي. دغه راز په هلمند، ارزګان او ځینو نورو ولایتونو کې هم د جګړو له امله بېځایه شوو کورنیو د بېړنیو مرستو غوښتنه کړې ده. بلخوا لوېدیځو رسنیو هم په افغانستان کې د جګړو د شدت له کبله د کډوالۍ پر زیاتوالي اندېښنه ښرګنده کړې ده. مېل ورځپاڼې په افغانستان کې د روانې جګړې او کډوالۍ په اړه په تازه لیکنه کې ویلي چې په دې وروستیو کې په افغانستان کې جګړو زور اخیستی او دې جګړې د سر او مال زیان سربېره، ګڼې کورنۍ د خپلو سیمو پرېښودو ته اړ کړې دي. د ورځپاڼې په خبره، د کندز په شاوخوا سیمو کې د طالبانو له پراخو بریدونو وروسته له پنځو زرو ډېرې کورنۍ د خپلو مېنو پرېښودو ته اړ شوي، خو طالبان لا هم خپلو جګړو ته دوام ورکوي. ورځپاڼې د جګړې له ښکېلو غاړو غوښتنه کړې، چې جګړه ودروي او نور دې اجازه نه ورکوي چې خپل خلک یې په تر ټولو سخته بې روزګارۍ او کړاو کې په تر ټولو بد بشري وضعیت کې ژوند وکړي. په هېواد کې د ننه د جګړو له کبله د کډوالو د زیاتېدو په تړاو دا اندېښنې داسې مهال دي، چې په دې وروستیو کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځینو چارواکو ویل، چې ښایي په افغانستان کې د جګړو له شدت سره سم د کډوالۍ ستونزې هم ډېرې شي، له همدې کبله دوی د دغه هېواد له ګاونډیانو سره خبرې کوي، ترڅو د افغان کډوالو پر مخ خپلې پولې پرانیزي.

## د کتــاب خبـرې

# انسان د مانا په لټون

لیکوال: **ویکټور فرېنکل**
ژباړن: **میراحمدیـاد**




### د بېګار د کمپ (زندان) تجربې

هغه به د خپلو مشاهدو په ارزونه کې څنګه بې طرفه پاتې شي؟ دا بې طرفي هغه کسان ساتلای شي چې له زندانه بهر وو. خو دا هم سخته ده، ځکه دا کس به بیا واقعي ارښتمن مطالب نه شي وړاندې کولای. ځکه دی په پنډغالي کې بندي نه و او د هغه ځای جریانونه یې له نږدې نه دي تجربه کړي. په دې خاطر یې ښایي قضاوتونه ناسم او ارزونې یې له تناسبه لرې وي. په دې موضوعاتو کې باید له هر ډول شخصي موقف نیولو ډډه وشي او همدا د دې ډول کتابونو ستونزه هم ده. د دې تر څنګ د شخصي تجربو د بیانولو جراأت هم اړتیا ده. زما نیت دا و چې کتاب په مستعار نوم ولیکم او یوازې خپله د زندان شمېره به پکې وکاروم، خو کتاب چې ختم شو، نو پوه شوم چې په مستعار نوم چاپېدل به د دې کتاب ارزښت کم کړي. ښه به دا وي چې زه خپل ټول نظریات په خپل اصلي نامه وړاندې کړم. نو سره له دې چې ځان ښودنه مې بده راځي؛ خو بیا مې هم له کتابه هېڅ شی نه دي پاک کړي.

دا کار به نورو ته پرېږدم چې د دې کتاب له محتوا وچې تیوری راوباسي. دا به ښایي د هغه زنداني ژوند په اړواپوهنه کې یوه مرسته وي چې تر لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته یې څېړنه پیل شوه او موږ یې د «اغزن سیم» له ناروغۍ سره مخ کړو. موږ د دویمې نړیوالې جګړې له برکته «د خلکو د سایکوپتالوژۍ» په برخه کې خپله پوهه زیاته کړه (زه دلته د لیبون د مشهور کتاب نوم او مشهور عبارت راوړم.) دویمې نړیوالې جګړې موږ ته عصبي جګړه راکړه او عصبي جګړې د بندیانو پنډغالي رامنځته کړل.

کیسه د عادي بندي په توګه زما تجربې دي، نو دا باید په سر کې لړ په غرور یاده کړم چې په اخره کې له یو څو اونیو طبابت پرته ما په زندان کې د ارواپوه یا عادي ډاکټر په توګه دنده نه ده ترسره کړې. زما ځینې ملګري بختور وو، په ځینو ډېرو سړو (یخو) زندانونو کې به یې له ځځلو جوړې پټۍ د بندیانو په ټپونو پورې کولې. په زندان کې زما شمېره (۱۱۹۱۰۴) وه. ما به زیاتره وخت یا ځمکه کیندله، یا به مې د ریل ګاډي په پټلۍ غځولو کې کار کاوه. یو ورځ مې د اوبو د تونل په کیندلو کې هم کار کړی دی. هېڅ مرسته راسره پکې نه کېده. دا زیار مې بې ثمره پاتې نه شو. د (۱۹۴۴م) تر کرسمس مخکې ما ته د انعام په ډول یو کوپون را ډالۍ شو. دا ډالۍ موږ ته هغه ساختماني شرکت راکړې وه چې موږ پرې عملاً د غلامانو په توګه پلورل شوي وو. دې ساختماني ادارې به هره ورځ د زندان مشرانو ته د یوه بندي پر سر ټاکلې پیسې ورکولې. په یوه کوپون به د شرکت پنځوس فینیکه لګښت راته او په راتلونکو څو اونیو کې په شپږو سګرټو بدلېدې. کله کله به د دې کوپونو تاریخ هم تېر شو. زه په ډېر ویاړ د داسې کوپون خاوند وم چې په دوولسو سګرټو مې بدلولای شو؛ خو تر ټولو مهمه دا وه چې دغه دوولس سګرټ په دوولس کنډوله ښوروا هم بدلېدای شول او کله کله به دې دوولس کنډوله ښوروا د لوږې مرګ تر ډېره وخته ځنډاوه.

د سګرټ څکولو امتیازات یوازې کاپوګانو یا د ډلو مشرانو درلودل. دوی به هره اونۍ خپل ټاکلې اندازه کوپون ترلاسه کاوه؛ یا به کله کله هغه بندیان هم د سګرټ څکلو له خونده برخمن کېدل چې په ګودامونو او ورکشاپونو کې به یې د څارونکو په توګه کار کاوه او د سختو او خطرناکو کارونو په بدل کې به یې یو څو سګرټ ترلاسه کول. د دوی تر څنګ بله استثنا هغه خلک وو چې نور به یې د ژوند هوډ بایللی و او غوښتل به یې چې له یو څو پاتې ورځو «خوند» واخلي. په دې خاطر به چې موږ په خپلو ملګرو کې څوک ولید چې سګرټ څکوي، نو پوه به شوو چې پر ژوندي پاتې کېدو یې باور بایللی دی او دا باور چې یو ځل لاړ شي، ډېر لږ ځله بېرته راګرځي. **دوام لري...**

# ډېل کمپنی

**حشمت الله نوري**

اوس ښایي په دې خبرو ډېر باوري وي چې واړه او نوي شرکتونه کولی شي ان ستر شرکتونه له ګواښ سره مخ کړي او د هغوی د پرمختګ مخه ډپ کړي یا ورسره د سیالۍ ډګر ته را ودانګي او په دې توګه ډېر هغه څه تر لاسه کړي، چې ستر شرکتونه یې نه شي تر لاسه کولی. د دنیا د رقابت موضوع عجیب حالت ته اوښتې ده، هر څوک په دې رمز نه پوهېږي یو یو چې ورباندې پوه شي بیا د نورو له کلونو زحمتونو او هڅو ډېر مخکې کېدلی شي. ډېل هم له همداسې کمپنیو یوه ده، دا یوه وړه کمپنۍ وه، دومره تاریخ نه لري، یوازې درې لیسزې وړاندې جوړه شوې؛ خو د هغو کمپنیو پر وړاندې یې خنډونه جوړ کړي چې لسګونه کاله یې د ټکنالوژۍ په برخه کې فعالیت کړی، ان د ټکنالوژۍ بنسټګران یې بللی شو. دا شرکت د ۱۹ کلن ځوان په خلاقیت او جدیت په کار پیل وکړ، یوازې د زرو ډالرو په پانګونې پرانیستل شوی دی. ډېر ژر له دې لارې مشهور شو چې په انلاین توګه به یې کمپیوټرونه پلورل، په کمه موده کې د زرو ډالرو شرکت د میلیاردونو ډالرو په شرکت واوښت. اوس د میلیاردونو ډالرو پانګې په لرلو د نړۍ په ۱۵۰ هېوادونو کې استازولۍ لري.

ډېل کمپنۍ په ۱۹۸۴ کال کې جوړه شوې ده. بنسټ اېښودونکی یې مایکل ډېل دی. د فعالیتونه برخه یې د کمپیوټرونو د پروزو، کمپیوټرونو او د دوی تولید او پلور دی. دوی کمپیوټر جوړوي او بیا یې مستقیم د انټرنېټ له لارې پلوري. کلنی پلور یې تر ۵۶ میلیاردو ډالرو اوړي. تر اویا زره ډېر کارکوونکي کار ورسره کوي. د نړۍ په پنځسو هېوادونو کې ۸۴ استازولۍ لري. مالک او د مدیره هیئت مشر یې مایکل ډېل دی، عامل مدیر یې بیا کوین رولینز دی.

ډېل کمپنۍ د یوه ساده مفهوم پر بنسټ جوړه شوه، پر کاروونکو د کمپیوټر مستقیم پلور. سره له دې چې مایکل له ۱۹۸۴ کال مخکې په لومړي سر کې خپل کار د ورځپاڼو او نورو شیانو له پلور پیل کړی و، خو وروسته یې کار ته پراختیا ورکړه، ده به د زړو کمپیوټرونو پرزې بدلولې او په مرسته به یې کمپیوټرونه جوړول او هغه به یې پر مشتریانو پلورل. نوموړي غوښتل هر څه په مستقیمه توګه وپلوري، نو د همدې لپاره یې په انلاین نړۍ کې خدمات پیل کړل. هغه به ویل، هر څه باید د پلور له لارې پرته تر سره شي. نوموړی په دې باور و چې د محصولاتو لاس په لاس کېدل ستونزې جوړوي او مشتري هغه څه نه شي تر لاسه کولی چې تمه یې لري. د همدې لپاره یې په انلاین نړۍ کې پلور پیل کړ او کار یې هم ګټور و. مینه‌وال یې هم ډېر شول، ځکه کتل به یې چې هر څه څنګه دي، د کمپیوټر اصلیت څه دی، مشخصیات یې څه دي، قیمت یې څو دی او څنګه یې تر لاسه کولی شي. همدا و چې ډېل کمپنۍ ورځ تر بلې پیاوړې کېده او مشتریان یې ډېرېدل.

ډېل شرکت په ۱۹۸۴ کال کې د ۱۰۰۰ ډالرو پانګې له لارې خپل کار پیل کړ او د تولید ډله یې یوازې درې کسه وه. دوی به د وړو میزونو شاوخوا ته ولاړ وو، هلته به یې زاړه کمپیوټرونه خلاصول، پرزې به یې بدلولې او نوې کولې به یې. یو کال وروسته دغه کمپنۍ په خپله طرحه یو کمپیوټر بازار ته وړاندې کړ. انټل پروسسر یې درلود او سرعت یې ۸ میګا هیرټزه و. دوه کاله وروسته د دغه شرکت بریا هغه وخت پیل شوه چې خپل دفتر یې په لندن کې پرانیست او په چټکۍ یې کارونه چین، فرانسې، جاپان او کاناډا ته هم وغځېدل. په ۱۹۸۹ کال کې ډېل لومړنی لپ ټاپ کمپیوټر بازار ته وړاندې کړ. دوی هره ورځ د پرمختګ په حال کې و، مشتریان او مینه‌وال یې ډېرېدل، د کار کوونکو شمېر یې مخ پر لوړېدو و، مدیر یې مایکل ډل هڅه کوله چې خپل فعالیتونه پراخ کړي. له خپل تاسیس اته کاله وروسته یانې په ۱۹۹۲ کال کې ډېل په دې بریالی شو چې د نړۍ په غوره ۵۰۰ شرکتونو کې ځای پیدا کړي. تر ۱۹۹۷ کال پورې ډېل شرکت تر ۱۰ میلیونو پورې کمپیوټر پلورلي وو. د شلمې پېړۍ په پای کې دغې کمپنۍ په انلاین بڼه د ۵۰ میلیونو ډالرو په ارزښت پلور درلود. دغه شرکت د کمپیوټري کمپنۍ په مینځ کې یو ریکارډ ثبت کړ او هغه دا چې په کال کې یې یو میلیارد ډالره پلور هم درلودلی و. په دې وخت کې ډېل کمپنۍ سرورونه او پرنټرونه هم پلورلي وو. هېره دې نه وي چې د نړۍ تر ټولو قوي سرورونه اوس هم د ډېل کمپنۍ دي چې تر ټولو ډېر پلور لري او د نړۍ ستر بانکونه، شرکتونه، دولتي ادارې او نور ارګانونه دغه سرورونه د خپلو کارونو لپاره کاروي.

ډل په همدې لیډلوري شرکت جوړ کړ، چې هر کاروونکي ته به مستقیم کمپیوټر رسوي. دوی غوښتل پر مشتري هغه څه وپلوري، چې دی یې غواړي. ۲۰ کاله وروسته موږ د ډېل کمپنۍ د دغه لیدلوري ګټه وینو. دغه کمپنۍ اوس هم وایي غواړو د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د کمپیوټرونو د تولید لومړۍ درجه کمپنۍ او د مشتریانو لپاره تر ټولو ښه تجربه موږ وو. مایکل اوس هم پر خپل دغه شعار ټینګار کوي:

ډېل په ډېر سرعت خپل فعالیتونه پراخ کړل، دوی هڅه وکړه چې له امریکا راووځي او په همدې ځای کې بندي پاتې نه شي. اوس د نړۍ په ۱۵۰ هېوادونو کې فعالې استازولۍ لري. دوی سرورونه، کمپیوټري حافظې، انځوریز او چاپي سیسټمونه، لپ ټاپونه، ډېسکټاپونه، شبکه یي محصولات، سافټ ویرونه او نور محصولات تولیدوي. مدیریتي خدمات او روزنیز خدمات هم تر سره کوي.

د شرکت لومړنی فکر همدا و چې د مشتري او تولید کوونکي تر منځ به واسطه له منځه وړو. په دې توګه نو دوی خپل محصولات ژر پلورل او په انلاین بڼه یې مشتریانو ته عرضه کول، دا کار اوس هم دوی کوي. ګټه یې څه ده، که تاسې د کمپیوټر نورو کمپنیو ته وګورئ، محصولات یې لږ تر لږه ۳۰ ورځې په ګدامونو کې پاتې کېږي او ګردش کوي. د بېلګې په توګه، د کمپک کمپنۍ محصولاتو ٦۰ ورځې په ګدامونو کې دوران درلود، خو د ډېل کمپنۍ محصولات یوازې څلور ورځې په ګدام کې وي. په دې توګه دوی د ډېرو ذخیره کولو، ډېرو کارته پورته کولو او یا نورو کمپنیو ته د ویشلو او بیا د هغوی له لارې مشتریانو ته درسولو لړۍ ختمه کړې ده. ډېری ستر شرکتونه هم چې غواړي د ډېل د محصولاتو کاروبار وکړي، په انلاین بڼه محصولات اخلي او بیا یې له ځان سره ساتي، دوی تر نن پورې هم پر مشتریانو مستقیم او انلاین محصولات پلوري چې د بریا راز یې په همدې کې دی. مایکل ډېل بیا له همدې الګو په ډېرو کارونو کې کار اخیستی، نوموړي ان خپلو مدیرانو ته ویلي چې یوازې له شاوخوا کسانو سره مه ګورئ. په دوی کې ځان مه محاصره کوئ. دی په خپله هم داسې کوي، د یوې موضوع په اړه له ډېرو سره غږېږي، هره شپبه یې له هر کارمند سره په اړیکه کې دی، هره دقیقه کوښښ کوي چې له کارکوونکو سره نږدې وي. هسک ټیټ کېږي، مستقیم هر کار تر سره کوي. هر څوک بې له کومې بهانې ان لکه خپل ملګري ته مایکل ډېل ته ورځي او خبرې ورسره کوي، خاندي ټوکې ټکالې کوي، خو خپل کار ته جدي او جدي دی.

ډېل کمپنۍ ځان ته ارزښتونه لري، یو ارزښت یې هماغه مستقیم موډل دی چې مخکې مو یاد کړ. د دغه کمپنۍ لپاره بل څه چې ارزښت لري او درناوی ورته لري، هغه مشتري دی. دوی له مشتري سره اړیکو لرلو او د هغه نظریاتو ته د درناوي لپاره ځان ژمن ګڼي. دوی یو بل اصل لري او هغه نړیوالتوب دی. دوی وایي، د نړیوالو ارزښتونو او د هغوی فرهنګ ته باید درناوی وشي. بل اصل چې ډېل کمپنۍ ورته ژمنه ده، هغه ټیمي کار دی. ډېل کمپنۍ وایي، کار به مو هله بریالی وي چې ټیم مو بریالی جوړ کړی وي. هله به مو کار بریالی وي چې ټیم مو ښه روزلی وي او ټیم ته مو ښه فرصتونه برابر کړي وي. بل اصل چې ډېل لري هغه له ودې سره مینه ده. تاسې هغه کار وکړئ چې مینه ورسره لرئ او هغه کار وکړئ چې بریالي کوي مو، دا د ډېل کمپنۍ لخوا وضع شوي اصول او ارزښتونه دي.

ډېل کمپنۍ تل پر خپلو مشتریانو غږ کوي چې په خپل منځ کې دې متحد او یوه ټوټه وي. پر یو بل باور ولري. رښتیني وي، قضاوت یې پر ځای او موقع وي. قوي او شجاع وي او همدارنګه خپل مسوولیتونه ومني.

ډېل کمپنۍ د خپل کار محور خپل کارکوونکي بولي. دوی خپل هر کارکوونکی د خپل ټیم غړی بولي. د شرکت پیاوړتیا او قدرت یې د کارکوونکو په قوت کې نغښتی دی. د ډېل کمپنۍ هر کار کوونکی چې سهار کار ته راځي، د خپلې هغې ورځې په موخو خبر دی. دوی په یوه سم مسیر کې د تګ لپاره ژمن دي. تر اویا زر ډېر کارکوونکي یې ډېل کمپنۍ د خپل کور په څېر ګڼي. له دې ډلې نیم یې له امریکا بهر د ډېل په استازولیو کې کار کوي.

په ډېل کې د نوښتونو بنسټ ډېر ساده دی. مشتري ته غوږ ونیسه، اړتیاوې یې واوره او بله ورځ یې رفع کړه. په دې تګلاره کې ټکنالوژي او نوښت د مشتري له اړتیاوو سره سم او پر هغه متمرکز دی. دا مشتری دی څو هغه څه انتخاب کړي چې ارزښت ورته لري. دوی هر څه مشتري ته راجع کوي. ډېل کمپنۍ وایي، هغه نوښت د احترام او درناوي وړ دی چې مشتري یې قبول کړي.

د دغې کمپنۍ مالک مایکل ډېل نومېږي، هغه په ۱۹۸۴ کال کې ۱۹ کلن و چې د ډېل کمپنۍ بنسټ یې کېښود، نوموړي مشتریانو ته د مستقیمو خدماتو د وړاندې کولو له لارې د پام وړ پرمختګ وکړ. هغه پوهنتون پرېښود او غوښتل یې تر آی بي ایم ښه کمپیوټر جوړ کړي. هغه غوښتل چې د کمپیوټرونو قیمت ټیټ کړي، څو هر څوک وکولی شي کمپیوټر ولري. هغه په دې پوهېده چې له پوهنتون پرته په نړۍ کې ډېر نور داسې فرصتونه شته، چې باید په اړه یې فکر وشي. له ۱۹۹۲ کال تر ډېرې مودې پورې د نړۍ په ۵۰۰ غوره شرکتونو کې مایکل تر ټولو ځوان مدیر و. هغه خپلې کمپنۍ او کاروبار ته ډېرې هڅې کړې او تر ټولو قوي مدیر پاتې شوی دی.

ډېل کمپنۍ خپل راتلونکی داسې ترسیم کړی دی، چې نړیوالې ودې ته لاسرسی، د محصولاتو رهبري، د مشتري د تجربو د جذب لړۍ چټکول او د راتلونکي فرهنګ وده او پراختیا.

ډېل کمپنۍ د نړۍ په ګوټ ګوټ کې مینه‌وال لري. سلګونه کسان یې له محصولاتو استفاده کوي. لکه مخکې مو چې هم یادونه وکړه، لپ ټاپونه، ډېسکټاپونه، سرورونه، ځانګړي چاپ ماشینونه، د کمپیوټر د اړتیا وړ توکي او پرزې تولیدوي. محصولات یې تر نورو کمپنیو نسبتاً ارزانه دي، نو ځکه یې مینه‌وال هم ډېر دي.

دا ډېل کمپنۍ ده. سلګونه کسان دلته پر کار مصروف دي. دوی ته هر څه خپل کور غوندې ښکاري، وسایل، ملګري او ډېرې دوستانه اړیکې پالي. دلته د ډېل کمپنۍ ستره ودانۍ ورلاړه ده. زرګونه مشتریان او کار کوونکي له یو بل سره دلته مخامخ کېږي. د یو بل نظرونه اوري او کوښښ کوي چې ډېل کمپنۍ د دوی د خوښې شی جوړ کړي. دا کمپنۍ یو وخت یوازې یو دوکان و، چې هلته به زاړه کمپیوټرونه له سره رغول کېدل. دلته یوازې پرزې یو ځای کېدې او له هغو پرزو بل کمپیوټر جوړېدو، د کارکوونکو شمېر یې یوازې درې کسه و، څلور میزونه او څو کسان. خو اوس تر اویا زره ډېر کارکووونکي او هر کال میلیونونه کمپیوټر همدلته تولیدېږي. د نړۍ ډېرو خلکو ښایي له همدې ځایه د خپلې خوښې وړ کمپیوټر تر لاسه کړی وي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۹,۱۵ |
| € | ۹٤,۵۰ |
| Rp. | ٤۹٦ |
| ₹ | ۱۰۷۰ |
| ¥ | ۱۱,٦۰ |
| £ | ۱۰۷,۲۰ |

### بیړنۍ شمیرې

| | |
|---|---|
| پولیس | 119 - 100 |
| امبولانس | 112 |
| اتاترک روغتون | 0202500312 |
| ملالی زیږنتون | 0202201377 |
| وزیر محمد اکبرخان روغتون | 0202301360 |
| رابعه بلخي روغتون | 0202100439 |
| د کرونا روغتیایي مرکز | 166 |

همیانی

# ولې دروغ وایو؟

ژباړه: احسان الله کریمي



زه بیخي ښه یم، مینه درسره لرم، وروسته اړیکه درسره نیسم، دا جامې دې ډېرې ښایسته دي، دا... دا هغه دروغ دي چې هره ورځ یې موږ او تاسو نورو ته وایو، ډېره گرانه خبره ده چې په اوس وخت کې دې داسې څوک پیدا شي، چې هغه دې دروغ نه وي ویلي.

هغه کوم علتونه دي چې موږ ډېری وخت د رښتیا په پرتله دروغو ته ترجیح ورکوو یا داسې گڼو چې په دروغ خبره به مو نور د رښتیا باور وکړي؟ موږ په همدې مقاله کې درته هغه علتونه ښیو.

دروغ ویل هر کال میلیاردونه ډالر تاوان حکومتونو ته رسوي، ټولنیزې اړیکې له منځه وړي او کله ناکله خو حتی د انسانانو د مرگ سبب هم کېږي. دروغ ویل ډېر علتونه لري، چې موږ یې درته ځینې ډېر مهم هغه دلته له تاسې سره شریکوو. دا علتونه د ارواپوهانو د څېړنو په پایله کې تر نورو مهم بلل شوي دي:

**۱ـ په خپله دروغ خبره پوهېدل**

ډاکتر بلا دي‌پائولو ارواپوه او د ویرجینیا پوهنتون استاد په دې باور دی، چې دروغ ویل نن ورځ د هرچا د ورځني ژوند یوه برخه گرځېدلې ده. د نوموړي څېړنه ښیي چې میرمنې او نارینه د ټولنیزو اړیکو پر مهال په هرو پنځو اړیکو کې د ۱۰ دقیقو په تېرېدو سره یوځل دروغ وایي، چې په یوه اونۍ کې په خپلو کارونو کې ۳۰ سلنه دروغ وایي.

د هغه د څېړنې له مخې، نارینه د ښځو په پرتله د ځان په اړه ډېر دروغ وایي څو نور تر خپل اغېز لاندې راولي، په داسې حال کې چې ښځې د نورو د احساساتو د کنټرول لپاره بیا ډېر دروغ وایي.

د اوکلند پوهنتون د بازارموندنې څانگې استاد ډاکتر کیم سروتا په ۲۰۱۰ کال کې یې یوه څېړنه کړې، چې په ۱۰۰۰ کسانو یې تر سره کړې ده، هغه وایي ٦۰ سلنه خلک هره ورځ دروغ وایي.

سروتا او بل ملگري تیموتي لوین یوه بله جالبه څېړنه هم تر سره کړې ده، دوی وایي د دروغو په اړه یې چې کومه څېړنه تر سره کړې، په همدې کې پنځه سلنه خلکو درواغ ورته ویلي دي.

**ولې دروغ وایو؟**

ډاکتر فلدمن د دروغو ویلو اووه دلیلونه دا بللي دي:

**۱ـ چاپلوسي**

تاسو به لیدلي وي، ځینې وخت چې نور ستاسو ستاینه کوي، تاسو ښه پوهېږئ چې هغوی ستاسې په اړه دروغ وایي، هغه څه چې دوی یې ستاسې په اړه وایي، هغه هیڅ په تاسو کې نه وي؛ خو دی یې ستاسو د رضایت او خوشاله کېدو لپاره وایي، دا وخت کې دا کس یا غواړي اړیکې درسره ټینگې کړي او یا هم د کوم کار په خاطر دا کار کوي.

**۲- په ټولنه کې د خپل نېک نوم ساتلو په خاطر**

حتماً به تاسو خپله هم دا کار کړی وي چې ځینې وخت یو څوک تاسو ته مېلمستیا وکړي او ستاسو زړه نه وي، چې ورشئ، نو په دې وخت کې یې غوښتنه په درغو ویلو ردوئ. د بېلگې په توکه ورته وایئ، زړه مې ډېر غواړي چې درسره تللی وای، خو بدبختانه سردرد یم، یا کار لرم چې هغه باید خلاص کړم. په دې وخت کې زموږ او ستاسو له دروغو ویلو څخه هدف دا دی، چې ټولنیزې اړیکې مو له منځه ولاړې نشي او هغه کس رانه خپه نشي.

**۳- نورو ته قناعت ورکول**

ځینې وخت چې یو کس غواړي تاسو ته قناعت درکړي، یا په بل ډول غواړي توکي دربانديې وپلوري، په دې وخت دروغ وایي، دغه چاره په بازارموندنه کې بیخي خرگنده ده. د بېلگې په ډول، تاسې ځئ بازار ته او غواړئ چې د کمپیوټر لپاره موس واخلئ، خو موس مو په زړه نه دی جوړ او پوهېږئ چې ښه کیفیت نه لري؛ خو دوکاندار تر هغه درته د هغه موس په اړه خبرې کوي، څو یې چې دربانديې پلورلی نه وي؛ پوهېږئ دا ټولې خبرې درته دروغ کوي او هغه هم یوازې او یوازې د دې لپاره چې هغه موس دربانديې وپلوري.

**۴- له خپل بد چلند د دفاع په خاطر**

که د ماشومتوب وخت ته لاړ شو، هغه وخت کې چې به ماشوم د کوم کور ښیښه ماته کړه، په پوره باور سره به یې ویل، چې دا کار ده نه دی کړی؛ خو اوس چې کله لوی شوو هم همدا کار کوو، د خپلو تېروتنو د پټولو لپاره دروغ وایو، ځینې وخت داسې هم کیدای شي چې د خپل همزولي او خپلوانو په خاطره هم دروغ ووایو څو هغوی ته جزا ورنه کړي.

**۵ـ خپلو هیلو ته دې رسېدو لپاره**

د تېر حالت خلاف ځینې وخت خپلو هیلو ته دې رسېدو په خاطر هم دروغ وایو، د بېلگې په توگه، ځینې وخت غواړو یوه رسنۍ کې کار وکړو، کله چې د نوموړې رسنۍ دفتر ته ورځو د ځان په اړه دروغ ورته وایو څو هغه رسنۍ کې موږ ته کار راکړي؛ ځکه دا مو یوه هیله ده چې په رسنۍ کې کار وکړو. ممکن تاسې هم ډېر کله دا کار کړی وي.

**٦ـ نور تر ثاثیر لاندې راوستل**

ځینې وخت د دې لپاره دروغ وایو، چې نور تر خپل تاثیر لاندې راولو او هماغه وي چې بیا له ځانه ورته بیخي ملایکه جوړوو. دغه ډول کسان تمه لري چې خلک ورسره مینه وکړي او یا د نورو تر نظر جذاب ورشي، دا هغه شیان دي چې ځینې وخت موږ دروغ ویلو ته مجبوروي څو مو نور تر تاثیر لاندې راشي، چې دا په راتلونکي کې هېڅ ښه پایله نه ورکوي.

**۷- د مخکنیو دروغو پټول**

ځینې وخت د دې لپاره هم دروغ وایو چې مخکې دروغ خبره مو راپسې سپینه نه شي، هغه خبره ده چې وایي یو دروغ سل دروغ نور زیږوي.

**۸- په کارځای کې دروغ**

درواغجن کسان ډېری وخت په دفتر یا کارځای کې دروغ وایي. د بېلگې په ډول کومه ورځ چې دفتر ته نه ځي، وایي: ناروغ یم، کور کې مې ضرور کار پیدا شو، ملگری مې مړ دی، نن نشم کولای دفتر ته درشم او ...

په ۲۰۲۰ کال کې په زرگونو امریکایي کارگرو باندې د یوې تر سره شوې څېړنې پایلې ښیي چې:

- نارینه د ښځو په پرتله له کار څخه د تښتېدلو لپاره ډېر دروغ وایي
- ۹۰ سلنه خلک چې عذرونه کوي او له دندې تښتېدلي، هیڅکله نه دي پېژندل شوي
- په اوسط ډول هر شخص اووه مختلفې بهانې له کار څخه د تېښتې لپاره کوي
- ځوانان د پاخه عمر لرونکو کسانو په پرتله ډېر دروغ وایي
- یوازې ۲۷ سلنه دروغجن خلک په خپلو کړنو پښېمانه دي او ۴۱ سلنه نورو بیا ویلي، چې دوی چمتو دي چې بیا هم دروغ ووایي.

## راپورونه: په یمن کې د تازه جگړو پرمهال ۱۱۱ کسان وژل شوي او لسگونه نور ټپیان دي



د یمن چارواکي وایي چې د حکومت تر کنترول لاندې سیمو باندې د حوثي شیعه یاغیانو په بریدونو کې په تېرو دریو ورځو کې لږ تر لږه ۱۱۱ تنه وژل شوي او لسگونه نور ټپیان شوي دي.

د یمن حکومت ته نږدې سرچېنې وایي چې دا نښتې د تېرې پنجشنبې له ورځې راپیل شوې چې د حکومت ۲۹ سرتېري او ۸۹ حوثي وسله وال پکې وژل شوي دي. په ورته مهال حوثیانو، چې د ایران له ملاتړه برخمن دي، تر دې دمه دغه شمېرې نه دي تایید کړې.

د یمن حکومتي چارواکي وایي چې یاغیانو له شمال، جنوب او لویدیځ څخه د حکومت تر کنټرول لاندې سیمو باندې بریدونه پیل کړي، خو په خبره یې، دوی نه دي توانېدلي چې د دفاع کرښې ماتې کړي. بلخوا د یمن د وضعیت څارونکي وایي که حوثي وسله وال د «مارب» سیمه، چې د تېلو پراخې زېرمې لري، ونیسي، د سولې په خبرو کې به یې دریځ قوي شي، خو په جگړې کې د ډېرو ولسي خلکو کورونه پرېښي او د یو بشري ناورین د پېښېدو اندېښنې هم زیاتې شوې دي. د یادونې ده چې په ۲۰۱۴ز کال کې حوثي یاغیانو په یمن کې جگړه پیل کړه او د یاد هېواد مرکز «صنا» یې ونیوه او له دې پېښې وروسته سعودي عربستان د یمن حکومت د دفاع لپاره یو ائتلاف جوړ کړ چې لا هم د دغو وسلو والو پر وړاندې هوایي بریدونه کوي. د بشري حقونو ځینو بنسټونو ویلي چې په یمن کې د جگړو له پیل راهیسې لسگونه زره کسان وژل شوي او د دغه هېواد نږدې ۸۰سلنه نفوس یې بشري مرستو ته کېنولي دي. ملگرو ملتونو د یمن دغه وضعیت د نړۍ تر ټولو بد بشري ناورین بللی دی. د ځینو راپورونو له مخې، په یمن کې د جگړې د نوې څپې له کبله زرگونه کسان د خپلو سیمو پرېښودو ته اړ شوي او ډېری نور یې جدي بشري مرستو ته اړ دي. که څه هم د ملگرو ملتونو په گډون د سیمې او نړۍ هېوادونو بیا بیا ویلي چې دوی هڅه کوي ترڅو د یمن جگړې ته سوله ییز حل ومومي، خو ټول اړخونه د دغې جگړې په پای ته رسېدو کې پاتې راغلي دي.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ډیزاین:** حسیب الرحمن ساحل
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily
**چاپخونه:** وایگل چاپ
0202512626 / 0782989696

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

دوشنبه د ۱۴۰۰ د چنګاښ اوومه | د ۲۰۲۱ د جون ۲۸مه | ۷۴۰مه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۲ | ۳٦ | ٤٠ | ۳۸ | ٤۳ | ۳۷ |
| ۱۸ | ۲۲ | ۲۴ | ۲۹ | ۲٦ | ۲۳ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۶ | لمر ختل ۰۴:۴۱ | ماسپښین ۱۱:۵۲ | مازیګر ۰۴:۵۴ | ماښام ۰۷:۰۴ | ماخوستن ۰۸:۴۹

## نړۍ




## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر نږدې څلور میلیونو کسانو ته ورسېد

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۸۱ میلیونه او ٦۵۳ زره او ۵۹٦ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دری میلیونه او ۹۳۵ زره او اته کسان مړه شوي او له ۱٦٦ میلیونو ډېر تري ببرته رغبدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۴ میلیونه او ۴۹۰ زرو ته رسېدلي او ٦۱۹ زره او ۳۴۳ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۳۰ میلیونه او ۲۳۳ زره او ۱۸۳ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱۸ میلیونه او ۳۸٦ زره او ۸۹۴ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، فرانسه د پنځه میلیونه او ۷٦۸ زره او ۴۴۳ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او روسیه د پنځه میلیونه او ۴۵۱ زره او ۲۹۱ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوي دي.

ترکیه، برېټانیا، ارجنټاین، ایټالیا او کولمبیا بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## روسیه: امریکا او برېټانیا دې په توره بحیره کې د مانورونو پر ځای له پوره احتیاط کار واخلي



روسیه خبرداری ورکړی چې د امریکا متحده ایالتونه او د برېټانیا سمندري ځواکونه دې تورې بحیرې ته د بېړیو د لېږلو پر ځای له خپل سالم عقل څخه کار واخلي.

روسیې ادعا کړې چې د جون په ۲۳مه یې کریمیا ټاپو وزمې ته نږدې «د ایچ‌ایم‌ایس» ډیفېنډر بېړۍ د لوري د بدلولو لپاره هوایي ډزې وکړې. د روسیې د دفاع وزارت ویاند جنرال ایګور کوناشینکوف رسنیو ته په یوه استولي بیان کې ویلي: «په دې اړه موږ له پنټاګون او د برېټانیا له سمندري ځواکونو چې خپلې بېړۍ تورې بحیرې ته لېږي، غواړو چې د اوکرایني ادمیرالانو پر اندېښنو تېر نه وځي، بلکې پر خپل سلیم عقل دې باور وکړي.»

خو د برېټانیا لومړي وزیر بوریس جانسون وایي، هېواد یې د روسیې له خوا په غیر قانوني ډول د کریمیا ټاپو وزمې یوځای کېدل په رسمیت نه پېژني او د دغه هېواد د سلطنتي سمندري ځواکونو بېړیو له اوکراین څخه ګرجستان ته تر ټولو نږدې لاره وهلې ده.

د روسیې، امریکا او برېټانیا ترمنځ دغه ټکر داسې مهال دی، چې روسیې د ۲۰۱۴ز کال په مارچ کې د اوکراین د کریمیا ټاپو وزمه له خپلې خاورې سره ملحق کړې ده.

## وزارت صحت عامه: در یک شبانه روز ۸۰ تن از اثر ویروس کرونا جان باختند



وزارت صحت عامه از ثبت ۱ هزار و ۵۳۱ رویداد تازه مثبت ویروس کرونا و جان باختن ۸۰ بیمار کرونا در یک شبانه روز گذشته در کشور، خبر داد.


آمارهای این وزارت نشان می‌دهند که در یک شبانه روز گذشته ۴ هزار و ۹۹۴ نمونه مشکوک به ویروس کرونا در آزمایشگاه های کشور آزمایش شده اند. در این میان ۸۰۵ تن از بیماران ویروس کرونا، در یک شبانه روز گذشته بهبود یافته اند که این افزایش چشمگیر را در روند بهبودی بیماران این ویروس نشان می‌دهد. اما شمار تلفات روزانه این ویروس همچنان در سطح بالا قرار دارد.

شمار رویدادهای تازه نیز اندکی کاهش یافته است چنانچه وزارت صحت عامه روز شنبه گفت که گردش این ویروس در کشور یک درصد کاهش یافته است. با این آمار شمار جان باخته گان ویروس کرونا به ۴ هزار و ۷۳۰ تن، شمار مجموعی مبتلایان به ۱۱۵ هزار و ٦۱۵ و شمار کلی بهبودیافته گان به ٦۸ هزار و ۲۸۸ تن می‌رسد.

سرپرست وزارت صحت‌عامه روز شنبه گفت که بیش از پنجاه درصد از رویدادهای ثبت شده در این وزارت از نوع ویروس «دلتا» بوده‌است. ویروس کرونا نوع دلتا، گونهٔ از جهش‌یافتهٔ کرونا است که نخستین‌بار در هند شناسایی شد.


## ژوند

### د انر ۵۰ کامرې لرونکی ځیرک موبایل



انر کمپنۍ غواړي خپل انر۵۰ نومې ځیرک موبایلونه خرڅلاو ته وړاندې کړي، چې اوس یې د دغه ځیرک موبایل د کامرې تصویرونه خپاره کړي دي. دغه ځیرک موبایل به د جون په ۱٦مه معرفي شي. انر کمپنۍ د خپل دغه ځیرک موبایل د شاتنۍ برخې تصویرونه خپاره کړي، چې پکې د دغه ځیرک موبایل د کامرې ډیزاین هم په ډاګه شوی دی. دغو تصویرونو کې لیدل کېږي چې د دغه ځیرک موبایل شاتنۍ کامرې دوو دایرو ته ورته جوړښتونو کې ځای پرځای شوې دي. دغو تصویرونو کې همدا راز ښکاري چې دغه ځیرک موبایل به د اصلي کامرې تر څنګ، دري نورې کامرې هم ولري. د مختلفو افشا شویو معلوماتو پر بنسټ، د انر۵۰ لړۍ ځیرک موبایلونه به له ۱۰۰ واټ چټک چارج څخه د ملاتړ وړتیا ولري. همدا راز انر۵۰ او انر۵۰ پرو کې به د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن۷۷۸ ډوله پروسېسر او انر۵۰ پرو پلس کې به سنپ ډراګن۸۸۸ ډوله پروسېسر کارول شوی وي.

### ځوان نسل او ژور خپګان



د نړۍ په هر هېواد کې په یو نه یو ډول ټولنیزې نا برابرۍ شته، چې په سبب یې خلک د ذهني ګډوډۍ ښکار ګرځېدلي، چې بیا بالاخره د ځان وژنې په څېر خطرناک شکل اختیارولی شي. ځان وژنه ځینې تحریک کوونکي سببونه لکه ذهني ناروغۍ، بدې تجربې، څور، ډار، وېره، د شخصیت خام والی، د نشه‌یي درملو استعمال، غذایي ستونزې، بې روزګاري، یوازیتوب، د اړیکو ستونزې، جینټکي ستونزې، د خواهشاتو نه پوره کېدنه، خطرناکې ناروغۍ، همیشنۍ درد، مالي ستونزې او نور لري. همدغه راز په ازموینه کې ناکامي، په کم عمر کې واده، کورنۍ ستونزې، ملامتونه، د بې عزتۍ وېره، منفي فکرونه او جنجال هم د ځان وژنې سببونه ګڼل کېږي او یو بل حقیقت دا دی چې د هرې ځان وژنې تر شا بېله کیسه وي. له ژور خپګان څخه د ژغورلو لپاره اسلام امر کوي چې ساده ژوند وکړئ، له صبر څخه کار واخلئ او نوي نسل ته اسلامي روزنه ورکړئ. تعلیمي ادارې باید په دې برخه کې مهم رول ولوبوي، د ماشومانو شعور بیدار کړي، ناهیلي یې ختمه کړي او د پرمختګ لارې ته یې سوق کړي.

کوچني او منځني سوداګریز پورونه
عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډیرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کیږي، ترلاسه کړي.
عزیزي بانک
Azizi Bank
www.azizibank.af
1515